# واه څه ښکلے ل شان دے

# د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه

05-December-2019



هفته وار د سُنّتونو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتونو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# واه څه ښکلے شان دے د غوثِ اعظم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

**نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. "**فتاوىٰ شامى**" کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د دُرُود شریف فضیلت

د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د قیامت په ورځ به د **الله** تعالیٰ د

عرش نه سِوا یو سورے هُم نه وي، درے کسان [یعني درے قِسمه خلق] به د **الله** پاك د عرش په سوري کښے وي: ﴿۱﴾ هغه کس څوك چه زما د اُمَّتي پریشاني لرے کړي ﴿۲﴾ زما سُنَّت ژوندي کولو والا او ﴿۳﴾ په ما باندے کثرت سره دُرُود شریف لوستلو والا.

(اَلبُدورُ السّافرة لِلسُّیُوطی، ص۱۳۱، حدیث:۳۶۶)

شافعِ روزِ جَزا تم پہ کروڑوں دُرُود دافعِ جُملہ بَلا تم پہ کروڑوں دُرُود

(حدائقِ بخشش، ص۲۶۴)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه مخکښے ښه ښه نِیَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "**نِیَّةُ الْمُؤْمِنِ خَیْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ**" د مُسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

**مَدَني ګل:** نیك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِیَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدلو نیتونه

۞ ښو ښو نِیَّتونو سره د شروع نه تر آخرے پورے بیان واورئ ۞ پوره تَوَجُّه سره د بیان اوریدلو نِیَّت اوکړئ ۞ ادب سره د کښیناستلو نِیَّت اوکړئ ۞ که قلم او ډائري لرئ نو د اَهَمو نکاتو نوټ کولو نِیَّت هُم اوکړئ.

[1] (معجم کَبِیر سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!    صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د رَبِيعُ الْآخِر میاشت جاري ده. دا هغه مبارکه میاشت ده چه د دے په یوولسم تاریخ د پیرانِ پیر، حضرت شیخ عبدُالقادر جیلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **عُرس مبارك** نمانځلے کیږي، چه هغے ته عاشقانِ غوثِ پاك یوولسمه شریف وائي. په هُم دے مناسبَت به نن مونږه د هغه مُقَدَّسے هستئ **ذِکرِ خیر، فضائل و کرامات، اَوصاف او مختصر تعارُف اورو** چه دُنیا ئے د "**غوثِ اعظم**" په لقب پیژني. **الله** پاك دِ مونږ ته ټول بیان تَوَجُّه سره او ښو ښو نیتونو سره د اوریدلو سعادت رانصیب کیږي. **راځئ چه** د ټولو نه اول د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عِلمي شان په باره کښے یوه ایمان تازه کوونکي واقعه اورو: چنانچه

## د عِلم و حکمت سمندر

حضرت حافظ ابُو العباس احمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چه زه د حضرت علامه عبد الرحمٰن ابنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره یو ځل د پیرانِ پیر حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بیان په اجتماع کښے حاضر شوم، یو قاري صاحب د قرآنِ کریم تلاوت اوکړو، د تلاوت نه پس غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وعظ شروع کړو او د هغه تلاوت شوو آیاتِ مبارکه نه ئے د یو آیت تفسیر بیان کړو او د هغے معنٰی ئے بیان کړه، حضرت ابُو العباس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چه ما د عَلَّامه اِبنِ جوزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه تپوس اوکړو چه آیا تاسو ته د دے تفسیر علم وو؟ هغوئي جواب راکړو چه آو! ما ته دا تفسیري قول معلوم وو. بیا حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د

هغه آيتِ مباركه دويم تفسير بيان كړو، حضرت ابُو العباس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چه ما د عَلَّامه ابنِ جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه بيا تپوس اوكړو چه آيا تاسو ته دا تفسير معلوم وو؟ هغوئي جواب راكړو چه آو! بيا ئے دريم تفسير بيان كړو، حضرت ابُو العباس رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي چه ما بيا د عَلَّامه ابنِ جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه تپوس اوكړو چه آيا دا تفسير هم تاسو ته معلوم وو؟ هغوئي جواب راكړو چه آو! ما ته معلوم وو. بيا حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغه آيتِ مباركه څلورم، پينځم او بيا ئے شپږم تفسير تر دے چه لس تفسيرونه ئے بيان كړل، ما به د هر تفسير نه پس د علامه ابنِ جوزي نه تپوس كولو چه آيا تاسو ته دا تفسير معلوم دے؟ او هغوئي به هر ځل جواب راكولو چه آو! دا تفسير ما ته معلوم دے. تر دے چه حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغه آيتِ مباركه يوولسم تفسير بيان كړو. ما دا ځل هم د عَلَّامه ابنِ جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه تپوس اوكړو چه آيا دا تفسير هم تاسو ته معلوم وو؟ نو هغوئي جواب راكړو چه آو! ما ته معلوم وو. د يوولسم تفسير نه پس حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د هغه آيتِ مباركه دولسم تفسير بيان كړو. ما د عَلَّامه ابنِ جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه تپوس اوكړو چه آيا تاسو ته دا تفسير هم معلوم دے؟ نو هغوئي دا ځل سر اوخوزولو چه نه! دا تفسير زما په علم كښے نشته. بيا حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ديارلسم تفسير بيان كړلو. علامه ابنِ جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه چه ما تپوس اوكړو نو بيا ئے اوفرمائيل چه زه د دے تفسير نه هم واقف نه يم. بيا حُضُور غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څوارلسم، پينځلسم، شپاړسم، دغسے مسلسل د يو نه پس بل، تر دے چه شلم تفسير، تر دے چه پينځه ويشتم تفسير، تر دے چه ديرش تفسيرونه ئے بيان كړل. او د يوولسم تفسير نه پس به زما د تپوس په جواب كښے په هر تفسير باندے علامه ابنِ

جوزي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ دا جواب راکولو چه زه د دے تفسیر نه واقِف نه يم. دا تفسير زما په عِلم کښے نشته دے.

د ديرشو تفسيرونو بيانولو نه پس بيا حُضُور غوثِ پاك رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د هغه آيتِ مبارَکه نور تفسيرونه بيانول شروع کړل، تر دے چه په هغه يو مجلس کښے حُضُور غوثِ پاك رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د هغه يو آيت څلوېښت تفسيرونه بيان کړل. او د هر تفسير سره به ئے د هغے د بيانوونکي نوم هم بيانولو. او عَلَّامه اِبنِ جوزي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ به د يوولسم تفسير نه پس د هر تفسير په جواب کښے هم دا فرمائيل چه دا تفسير زما په علم کښے نشته.

(بهجة الاسرار، ذکر علمه...الخ،ص ۲۲۴ بتغير)

مَظہرِ عظمتِ غفّار ہیں غوثِ اعظم    مُظْہِرِ رِفعَتِ جبّار ہیں غوثِ اعظم

نائبِ احمدِ مُختار ہیں غوثِ اعظم    اور سب ولیوں کے سردار ہیں غوثِ اعظم

میرے مرشد مری سرکار ہیں غوثِ اعظم    میرے رہبر مرے غمخوار ہیں غوثِ اعظم

حشر کے روز ہماری بھی شفاعت کرنا    آہ! ہم سخت گنہگار ہیں غوث اعظم

(وسائلِ بخشش مرمّم،ص۵۵۹-۵۶۱)

**د دے شعرونو مختصر وضاحت:** غوثِ پاك رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د الله پاك د مُعاف کولو والا صِفَت د عظمت او د غضب کولو والا صِفَت د اوچتوالي نښه ده. غوثِ پاك رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نائب او د ټولو وليانو سردار دے. زما رهنمائي کولو والا، زما پير، زما پيشوا، او زما غمونه لرے کوونکے دے. افسوس! مونږه ډير ګنهګار يُو خو اے غوثِ پاك رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ ! ستاسو په خدمت کښے عرض دے چه د حشر په ورځ زمونږه هم شفاعت اوکړئ.

صَــلُّــوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** ! عام طور چه کله څوك بیان کوي نو د مخکښے نه تیاري کوي، د ډیرو کتابونو مطالعه کوي، خپل ذِهن کښے د بیان یو ترتیب جوړ کړي او کله خو ټول بیان یا یو څو ضروري نکات هم اولیکي او ځان سره ئے یوسي چه په بیان کولو کښے راته آساني وي، د مثال په طور لکه اوس چه زه تاسو ته بیان کووم نو مکمل بیان د یو ترتیب مطابق زما مخے موجود دے خو قربان شم! د حُضُور غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د علمي شان و شوکت نه او د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د بے مثاله ذهانت نه چه هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په هغه یو آیت باندے پوره بیان اوکړلو او د هغه آیت یو نه، دوه نه، درے نه بلکه څلویښت تفسیرونه ئے بیان کړل او د هر قول سره ئے د قائل نوم هم بیان کړو او داسے د علم و حکمت نه ډك تفسیرونه ئے بیان کړل چه د عَلّامه عبدُ الرَّحمٰن اِبنِ جوزي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په شان د وخت ډیر غټ عالم او اِمام هُم ورته حیران پاتے شو.

صَــلُّــوْا عَــلَی الْـحَــبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** د بیان شوي واقعے نه دا معلومه شوه چه پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر شیخ عبد القادِر جِیلاني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډیر لوئ عالِمِ دِین وو او هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به قران کریم سره ډیر زیات محبت لرلو او د دے اندازه د دے نه اوشوه چه هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د قرآنِ مجید د تفسیر د علم سمندر وو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به ډیر زیات عبادت او ریاضت او د قرآن کریم تلاوت کولو، هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د پینځلس کاله په هره شپه کښے

پوره پوره قرآنِ کریم ختم کړے دے. (بهجة الاسرار، ذکر فصول من کلامه... الخ، ص۱۱۸ ملخصاً)

نن صبا مونږه د غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د محبت دعوٰی کوونکي که په خپل حالت غور اوکړو چه آیا مونږ ته په یادو نه بلکه آیا په کتلو هُم صحیح قرآنِ کریم لوستل راځي او که نه؟ د ګاډي چلولو د پاره باقاعده د ډرائیونګ کورس کیږي. خلق پرے غټ غټ فیسونه ورکوي، او کوشش کوي چه زر زر د ګاډی ډرائیوري زده کړم. دغه شان په شروع کښے به مونږ د موبائل په استعمال نه پوهیدلو، خو د خلقو نه په تپوس تپوس مو زده کړو او د چا نه تپوس کولو کښې شرم هُم نه محسوسوو. که څوك کاروبار کول غواړي نو د هغے د پاره د ټولو نه اوَّل تجربه کارو خلقو سره مشوره کوي چه په کاروبار کښے مے نقصان اونه شي، د هغے د پاره اوَّل معلومات حاصلوي، د ګټے او تاوان خبرے په نظر کښے ساتي. دغه شان د انګلش وئیلو مثال واخلئ، مورنۍ ژبه ئے څه بله وي خو چه انګریزي زده کړي نو بیا ئے ډیره ښه وائي هم، بلکه نن صبا خو بعضے خلق خپل اولاد ته دومره انګلش زده کوي چه هغه بیا انګریزانو ته د انګریزۍ سبق وائي، خو قرآنِ کریم ورته دومره هُم نه زده کوي چه غریب پرے خپل لمُونځ صحیح کړي.

افسوس ډیر افسوس! ☆ د دُنیا هر یو کار مو زده کړو خو قرآن لوستل مو زده نه کړل. ☆ کاروبار کول مو زده کړه خو قرآن لوستل مو زده نه کړل. ☆ ګاډے چلول مو زده کړو خو قرآن لوستل مو زده نه کړو. ☆ موبائل چلول مو زده کړل خو قرآن لوستل مو زده نه کړو. ☆ خلقو ته دوکه ورکول او مال ګټل مو زده کړل خو قرآن لوستل مو

زده نه کړو. ☆ خلق بے وقوفه جوړول مو زده کړل خو قرآن لوستل مو زده نه کړو. ☆ د کیبل او ډش چینلو په باره کښے مو هر څه زده کړل خو قرآن لوستل مو زده نه کړو. ☆ اخبار لوستل مو زده کړو خو قرآن لوستل مو زده نه کړو. ☆ قصے او ډائجسټ لوستل مو زده کړل خو قرآن لوستل مو زده نه کړو. نن صبا مونږه قرآنِ کریم په المَارئ کښے کیښودے وي، او صرف په دوو موقعو باندے ئے را اخلو (1) چه کله په کور کښے مړے اوشي، خو په دغه وخت کښے هُم بعضې بدنصیبه داسے وي چه قرآن کریم نه شي لوستلے. په کور کښے چه د قرآن ختم کول غواړو یا فاتحه لوستل وي نو د جمات امام یا مؤذن راولو. (2) او د واده په موقع، چه کله مو لور د کور نه رُخصتیږي نو قرآن کریم را واخلو [او په سر د پاسه ئے ورته اونیسوچه برکت ترینه واخلي، دا هُم جائز دي خو مطلب دا دے چه باقي پوره کال مو هیر کړے وي] .

حالانکه دا هغه عظیمُ الشان او برکت والا کتاب دے چه د دے ښځپله لوستل، نورو ته لوستل، اوریدل او اورول، دا په لاسونو کښے راخستل او ښکلول او دے ته کتل هم د ثواب کار او عبادت دے، چنانچه

حدیثِ پاك کښے دي: **اَلنَّظْرُ فِي الْمُصْحَفِ عِبَادَةٌ** یعني قرآن مجید ته کتل عبادت دے. (شعب الایمان، باب فی بر الوالدین، ۶/۱۸۷، حدیث: ۷۸۶۰، ملتقطاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له پکار دي چه ښځپله هُم کثرت سره د تلاوت کولو عادت جوړ کړو، او د خپل کور کسانو، خپلوانو او دوستانو او نورو مسلمانانو ته هم د قرآنِ مجید د تِلاوت کولو دعوت ورکړو، ځکه چه خپلو بچو ته د

قرآنِ کریم زده کولو ترغیب زمونږه خوږ آقا مکّی مَدَنی مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلے دے: چنانچه

## اولاد ته قرآن زده کړئ

نبیِّ کریم رَءُوْفٌ رَّحِیْم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **اَدِّبُوْا اَوْلَادَکُمْ عَلٰی ثَلَاثِ خِصَالٍ، حُبِّ نَبِیِّکُمْ ، وَحُبِّ اَھْلِ بَیْتِہٖ،وَقِرَاءَۃِ الْقُرْآنِ** یعني خپل اولاد ته درے خبرے زده کړئ: (1) د خپل نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مَحَبَّت (2) زما د اهلِ بیتو محبت (3) او تلاوتِ قرآن. (جامع الصغیر لسیوطی، باب الھمزہ، ص۲۵، حدیث:۳۱۱)

دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت رہوں باوضو میں سدا یاالٰہی

(وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۱۰۲)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د غوثِ پاك رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د شان و عظمت او د هغوئي د فضائلو او مرتبو او کراماتو په باره کښے بیان اوریدلو، په اولیائے کرامو کښے محبوبِ سُبحانـي، غوثِ صَمدانـي، عبدُالقادر جیلانـي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د الله پاك د ټولو نه اوچت ولي دے او د ټولو اولیاؤ سردار دے. د هغوئي شخصیت د عوامو او خواصو ټولو د پاره د عقیدت او احترام لائق دے. او هغوئي د اعلٰی او عظیمُ الشان خاندان سره تَعَلُّق لری، راځئ چه د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ مختصر تعارُف واورو: چنانچه

## مختصر تعارُف

☆ **حَضْرَتِ غَوْثِ اعْظَمْ، شیخ عبدُالقادِرجِیلانی** رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په یکم رَمَضانُ المُبارَك

**470** هجري د جمعے مبارك په ورځ په جيلان کښے پيدا شوے وو. ☆ د هغوئي نوم **عبدُالقادر** او کنيت **ابو محمد** دے. ☆ **مُحِیُّ الدِّین، مَحْبُوبِ سُبْحانی، غَوْثِ اعظم اورغَوثُ الثَّقَلَیْن** وغيره د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ القابات دي. ☆ پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د اهلِ بيتو يعني سيدانو په کورنۍ کښے پيدا شوے دے. ☆ د هغوئي خاندان په زُهد و تقوٰی کښے ډير مشهور وو. ☆ د هغوئي د والِد **مُحترم** رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ نوم حضرت اَبُو صالِح **مُوسٰی جنګي دوست** او د والِده **مُحترمه** نوم **سَیِّده فاطمه** رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہا او کُنيت **اُمُّ الخَير** دے (سیرتِ غوث اعظم،ص۲۷ملخصًا) ☆ غوثِ پاك رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د والد له طرفه حَسَنِـي (او د مور له طرفه حُسَيني سَيّد) دے. ☆ د هغوئي والد **محترم** حضرت سَيِّد ابو صالِح موسٰی جنګي دوست رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د خپل وخت مشهورو اوليائے کرامو کښے وو. (غوث پاک کے حالات،ص۱۵)

امیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د خاندانِ غوثِ پاك په شان او عظمت کښې فرمائي:

مُکَرَّم شہا تیرے سارے کے سارے ہیں آباء و اَجداد یا غوثِ اعظم

(وسائلِ بخشش مرمم،ص۵۵۵)

**د شعر مختصر وضاحت:** اے غوثِ پاك رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ!ستاسو خاندان او پلار نيکونه ټول عِزّت او عظمت والا وی.

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** سردارِ اولياء، حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ په وړوکوالي کښے صاحِبِ کرامت وو، چنانچه

## د وړوکوالي کرامات

حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په يكم تاريخ د دوشنبے [يعني د ګُل] په ورځ د صبا صادِق په وخت كښے دُنيا ته تشريف راوړلو او هغه وخت ئے شونډے په قلاره قلاره خوزيدلے او د **الله الله** آواز ترينه راتللو. (ايضًا)

رونقِ کل اولیا یاغوثِ اعظم دستگیر
پیشوائے اَصفیا یاغوثِ اعظم دستگیر
آپ ہیں پیروں کے پیر اور آپ ہیں روشن ضمیر
آپ شاہِ اَتقیا یاغوثِ اعظم دستگیر

(وسائلِ بخشش مرمم ،ص۵۴۷)

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** يقيناً دا د ربِّ كريم فضل و احسان وو چه الله پاك هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته په وړوكوالي كښے دومره ډير كرامات عطا كړي وو، د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د عظمت و شان او كرامتونو په باره كښے حضرت شيخ عبدُ الحق محَدِّث دِهلوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

## د مرو لړئ

په مشائخِ اولياؤ كښے هيڅ څوك هُم د كرامتونو په لحاظ د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه برابر نشته، تر دے چه بعضې مشائخو فرمائيلي دي چه د پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د كرامتونو حال خو د مرو د لړئ په شان دے چه كله اوشليږي نو مسلسل په يوه پسے بله مرئ ترينه رالويږي، د غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه كرامتونه د شمير نه بَهر دي. (اشعة اللمعات، کتاب الفتن، باب الکرامات، ۶۱۰/۴ مفهوماً)

د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ذات مبارک د کرامتونو او کمالاتو مجموعه ده، صرف د

هغوئي د مبارك نوم دا برکت دے چه کوم ځائے کښے [د هغوئي نوم مبارك] ياد کړے شي نو د ضررى ځناورو نه حفاظت حاصل شى.

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** لږ سوچ اوکړئ چه د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د نوم دا برکت و عظمت او کرامت دے چه سړے خواره ځناور د هغوئي نوم واوري نو حمله نه کوي، ضرري خزنده [مار لړم] تکليف نه ورکوي نو د هغوئي ذات به څومره باکرامته وى او د هغوئي مرتبه به څومره اوچته وي. **کرامت** څه ته وائي؟ راځئ چه د کرامت تعريف واورو: چنانچه

## د کرامت تعريف او د هغے حکم

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي ادارے **مکتبةُ المَدينه** کتاب "**کراماتِ صحابه**" صفحه 36 کښے دي چه د مُؤمِن مُتَّـقي نه که داسے نادِرُ الوُجود او عجيبه څيز اوشي او ښکاره شي کوم چه عام طور عادتاً نه کيږي نو هغے ته کرامت وائي. داسے قِسمه څيزونه که د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام نه د اعلانِ نُبُوَّت نه مخکښے ظاهر شي نو هغے ته اِرهاص او که د اِعلانِ نُبُوَّت نه پس ترينه ظاهر شي نو هغے ته **مُعجزه** وائي او که د عامو مومنانو نه داسے قِسمه څيزونه ظاهر شي نو هغے ته **معُونَت** وائي او که د يو غيرمُسلم نه کله کله د هغه د خواهش مطابق داسے قِسمه څيز ښکاره شي نو هغے ته **اِستِدراج** وائي. (النبراس شرح شرح العقائد ،اقسام الخوارق سبعة ، ص۲۷۲ملخصاً)

صدرُ الشَّريعه، حضرت علامه مولانا مفتـي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي چه کرامتِ اولياء حق دے، [او] د دے مُنکِر ګمراه دے. (بہارِ شریعت،حصہ اول،۱/۲۶۸)

د کرامت ډير قِسمونه دي، مثلاً مړي ژوندي کول، ړندو او د بَرص [يعنی برَګي مرض] والؤ ته شِفا ورکول، اوږد مزل په لږ وخت کښے کول، په اوبو د پاسه تلل، په هوا کښے اَلوَتل، د زړه په خبره پوهيدل او لرے څيزونه ليدل وغيره وغيره.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو واوريدل چه د کرامت ډير قِسمونه وي، خو په حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باندے د الله پاك دا خاص فضل و احسان وو چه الله پاك هغوئي ته د نورو اولياؤ نه زيات کرامات عطا کړي وو، هغوئي به د **الله** پاك په عطا سره کله مړي ژوندي کول او کله به ئے ړانده بِينا کول. کله به ئے د برګي مريضانو ته شِفا ورکوله نو کله به ئے د بيمارانو او پريشان حالو مدد کولو. کله به ئے د لرے نه د مدد غوښتونکو امداد فرمائيلو نو کله به ئے د حاجتمندو حاجت پورا کولو. راځئ چه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو څو کرامتونه واورو: چنانچه

## د غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُعا بَرَکت

حضرت شيخ صالِح اسماعيل بِن علي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چه حضرت شيخ علي بِن هيتمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چه کله بيمار شو نو کله کله به ئے زما زمکے طرف ته تشريف راوړلو او هلته به ئے ډيرے ورځے تيرولے. يو ځل هغوئي هُم هغلته بيمار شو نو د هغوئي څنګ ته غوثِ صمداني، قُطبِ ربّاني، شيخ عبدُ القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړلو، دواړه حَضَرات زما په زمکه يو ځائے شو، په هغے کښے د کجورے دوه ونے وے او هغه د څلورو کالو نه وچے وے او په هغے کښے ميوه هُم نه کيدله. مونږه د هغے د کټ کولو اراده اوکړه نو پيرانِ پير غوثُ الاعظم دستګير شيخ عبد القادِر جِيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پاڅيدلو او د يوے ونے

لاندے ئے اودس اوکړو او د یوے نه لاندے ئے دوه رکعاته نفل اوکړل نو هغه ونے شنے شوے او پانړے ئے اوکړے او په هُم هغه هفته پکښے میوے هُم اولګیدے حالانکه هغه د کجورو د میوو موسم نه وو. ما د خپلے زمکے [د ونے] یو څو کجورے د هغوئي په خِدمت کښے پیش کړے، هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د هغے نه څه اوخوړلے او ما ته ئے اُووئیل: **اللّٰه** پاك دِ ستا زمکه، ستا دِرهِم، ستا صاع او ستا شودو [یعني پئیو] کښے بَرَکت درکړي.

**حضرت شیخ صالِح اسماعیل بِن علي** رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي چه زما په زمکه کښے د هغه کال د مِقدار نه د دوه همره نه واخله څلور همره پیداوار کیدل شروع شو، او اوس زما دا حال دے چه زه یو دِرهَم خرچ کووم نو ما له د هغے نه د دوه نه واخله درے همره پورے راځي او چه کله زه د غنمو سل بورئ په یو مکان کښې کیږدم بیا د هغے نه پنځوس بورئ خرچ کړم او باقي اوګورم نو سل بورئ موجودے وي، زما څاروي دومره بچي راوړي چه زما نه د هغے شمیر هیر شي او دا حالت د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستګیر شیخ عبد القادِر جِیلاني رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په بَرَکت تر اوسه پورے باقي دے. (بھجۃ الاسرار، ذکر فصول من کلامہ...الخ، ص۱۹۱)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا دي د حُضُور غوثِ اعظم رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د مبارك وجود بَرَکتونه. یاد ساتئ! خوك چه خپل ژوند د **ربّ** تعالیٰ په اِطاعت او فرمانبرداري کښے تیروي نو **اللّٰه** تعالیٰ هغوئي ته خپل حقیقي مَحبَّت عطا کوي او هغوئي ته ډیر ډیر کرامات ورکوي، هُم دا وجه وه چه

## شانِ غوثِ پاك

☆ **د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستگیر** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د ژوند یو یو ساعت په شریعت باندے عمل کولو کښې تیر شوے دے. ☆ **پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستگیر** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ به د فرائضو او واجباتو پابندي کوله. ☆ **پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستگیر** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د پیدا کیدو سره روژه نیولي وه. ☆ **د پیرانِ پیر غوثُ الاعظم دستگیر** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ عمر چه کله څلور یا پینځه کاله شو نو د **بِسۡمِ اللّٰه** لوستلو رسم ادا کولو وخت کښے هغوئي **تَعَوُّذ** یعنی (**اَعُوۡذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم**) او **تَسۡمِیَه** یعنی (**بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم**) نه پس اتلس سیپارے په یادو [یعني زباني] واورولے او اوئے فرمائیل: زما مور ته هم دومره یادے وے هغے به چه لوستلے نو ما په اوریدلو اوریدلو یادے کړلے. (مرماشوم ص4) ☆ **زمونږه غوثِ پاك** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د څلویښتو کالو پورے د ماسخُتن په اوداسه د سحر لمُونځ ادا کړے وو. ☆ **زمونږه غوثِ پاك** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ به چه کله بے اودسه کیدلو نو فوراً به ئے اودس کولو او دوه رکعاته نفل به ئے ادا کول.(بهجة الاسرار، ذکرطریقه، ص۱۶۴) ☆ **زمونږه غوثِ پاك** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ به هره ورځ زر رکعاته نفل ادا کول. (غوث پاک کے حالات، ص۳۲) ☆ **زمونږ د غوثِ پاك** رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ په لاسو مبارکو د پینځَۀ سوو نه زیات غیر مسلمو اسلام قبول کړے وو او د یو لاك نه زیاتو ډاکوانو، غلو، فاسقانو او فاجرانو او لویو لویو ګنهګارانو توبه کړي وه. (بهجة الاسرار، ذکر وعظه، ص۱۸۴)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دولسو مدني کارونو کښې يو مدني کار ''مدني انعامات''

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** د خپلو اعمالو محاسبه کولو عادت جوړولو، نيکئ کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو او د خپلے اصلاح جذبه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مدنی تحريك دعوتِ اسلامی مدني ماحول سره تړون اوکړئ او د خپلو مصروفياتو نه څه نه څه وخت اوباسئ او د ذيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښے د زړه په اخلاص سره حصه اخلئ او د مدني انعاماتو مطابق هره ورځ غور و فِکر کوئ او د اسلامي مياشتے په يکم تاريخ د خپلے علاقے ذِمَّه دار ته د مدني انعاماتو رساله جمع کوئ.

دولسو مدني کارونو کښے د دے مدني کار ''**مدني انعامات**'' تفصيلي معلومات حاصلولو د پاره د **مکتبةُ المَدينه** رساله '' **مدني انعامات** '' اولولئ. ټول ذمه داران دِ د دے رسالے لازمي مطالعه اوکړي. دا رساله د **مکتبةُ المَدينه** نه طلب کولے شئ او د دعوتِ اسلامي په ويب www.dawateislami.net باندے ئے هم لوستلے شئ.

☆ **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! مدني انعامات د عمل جذبه زياتولو او د ګناهونو نه د بچ کيدلو بهترينه نُسخه ده، ☆ په مدني انعاماتو عمل کوونکو نه اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډير خوشحاليږی او هغوئي ته دُعاګانے هُم کوي ☆ په مدني انعاماتو باندے د عمل په برکت د خوفِ خُدا او عشقِ مصطفٰی لازوال دولت په لاس راځي ☆ د مدني انعاماتو

دا لويه تحفه د بُزرګانِ دين ياد تازه کوي،☆ مدني انعامات د بُزرګانِ دين په نقشِ قدم د تللو او د خپل ځان حساب کولو بهترينه ذريعه ده. ډير اسلامي ورونړه د مدني انعاماتو برکتونه حاصلوي. راځئ چه د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## د مدني انعاماتو برکتونه

د فيصل آباد په خواو شا کښے د اوسيدونکي يو اسلامي ورور په يو نيم کال کښے داسے يوه ورځ نه ده تيره شوي چه هغه به پکښے فِکر مدينه يعني غوروفِکر نه وي کړے، **اَلْحَمْدُلِلّٰه** په مدني انعاماتو د عمل کولو په برکت هغه ته **سُوْرَۃُ مُلْك** زباني ياد شوے دے. دغه شان د حيدرآباد سندھ يو اسلامي ورور ته د **رَجَبُ الْمُرَجَّب** په مياشت 1426ھ کښے يوه شپه په خوب کښے د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو. خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته په خوب کښے څه داسے اوفرمائيل: څوك چه په دے مياشت کښے هره ورځ په پابندئ سره د مدني انعاماتو متعلق غوروفِکر اوکړي، **الله** پاك به د هغه بخښنه اوکړي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے شميره صفات لرل او ورسره ورسره په عبادت و رياضت، ولايت و کرامت کښې خو بےمثاله وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په زُهد و تقوٰی او قناعت اختيارولو کښې هم کمال درجه لرله، د دُنياوي مال و دولت خواهش ئے بالکل نه لرلو، که چرے يو مالدار کس به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته مال

و دولت پيش کولو نو هغوئي به نه قبلولو، بلکه هغوئي ته به ئې د نيکئ دعوت ورکولو او د هغوئي د اصلاح کوشش به ئې کولو، چنانچه

## زُهد و تقوٰی

شيخ ابو العباس خِضَر رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ بيان کوي چه يوه شپه مونږه په بَغداد کښې د شيخ عبدُ القادر رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ جيلاني په مدرسه کښې وو، يو خليفه [يعني بادشاه] د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو د سلام نه پس ئې عرض اوکړو چه ما ته څه نصيحت اوکړئ او د مال و دولت لس ډکے خلتے [يعني تيلئ] ئې ورته پيش کړے، چه هغه ورسره خادمانو راخستي وے، غوثِ پاك رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ورته اوفرمائيل چه ما ته د دے خلتو ضرورت نشته، خو خليفه د بيرته وړلو نه انکار اوکړو او د قبلولو د پاره ئې ډيره زاري اوکړله، پس هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ يوه تيلئ په ښي لاس کښې راواخستله او بله ئې په کينړ [يعني ګس] لاس کښې راواخستله او دواړه ئې زور کړلے او نچوړ ئې کړلے نو د هغے نه وينه اوبهيدله، نو هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ هغه خليفه ته اوفرمائيل: آيا تا ته د الله پاك نه حيا نه درځي چه ما له دِ د خلقو وينے راوړي دي؟ دا ئې چه واوريدل نو هغه بے هوشه شو. (بهجة الاسرار، ذکر فصول من کلامه ۔۔الخ، ص۱۲۰)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان شوي واقعے نه دا خبره معلومه شوه چه د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ زُهد تقوٰی بےمثاله وو او دُنياوي مال و دولت نه بالکل بے پرواه وو، ځکه خو هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د هغه خليفه دولت قبول نه کړو، دويمه خبره دا

معلومه شوه چه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د غټو غټو منصب لرونکو د رُعب او دبدبے نه نه متاثره کيدلو او نه به ئې د هغوئي خوشامدے او لحاظ کولو بلکه هغوئي به ئې چه په ګناهونو کښې اخته اوليدل نو د نيکۍ دعوت به ئې ورکولو، وعظ و نصيحت به ئې ورته فرمائيلو او په هره طريقه به ئې د هغوئي د اصلاح کوشش کولو. ځکه چه د دولتمندو خلقو خوشامدے خو دِ هغه کس کوي څوك چه د دے دُنيا د ذليله دولت حاصلولو لالچ لري، او د **الله** نيك بندګان خو د قَناعت [يعني په لږ څه د صبر کولو] د دولت نه مالامال وي، د **الله** والؤ په نظر کښې د دے فاني دولت هيڅ لالچ نه وي او هغوئي د **الله** په رحمت يقين ساتي، ياد ساتئ! د مالدارانو د دولت په سبب د هغوئي تعظيم کول شرعاً منع دي، چنانچه

## په درے حصو کښې دوه حصے دين ترينه لاړ شي

منقول دي: څوك چه د يو مالدار کس د هغه د مالدارئ په وجه عِزَّت اوکړي، د هغه په درے کښې دوه حصے دين لاړو. (کَشْفُ الْخِفَاء، ۲/۲۱۵، رقم: ۲۴۴۲)

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم!** مونږ له پکار دي چه د دنياوي مالدارانو د خوشامدو کولو او د هغوئي د دروغو صفتونه کولو په ځائے هغوئي ته د نيکۍ دعوت او د فِکرِ آخرت دعوت ورکړو، که **الله** ته منظوره وه نو زمونږه د معاشرے نه به بدئ ختميدل شروع شي، هر طرف ته به د نيکو سپرلي راشي، او زمونږه معاشره، چم ګاونډ او هر کور کښې به امن راشي، هر طرف ته به د سُنَّتو مدني سپرلي راشي، لمُونځ قضا کوونکي به د لمُونځونو پابند جوړ شي، د هر کور نه به د تلاوتِ قرآن آوازونه راځي،

د ګناهونو دعوت ورکوونکے به د نيکئ دعوت ورکولو والا جوړ شي. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## سخاوت و ايثار

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به زُهد و تقوىٰ، قناعت او پرهيزګاري اختياروله، د نيکئ دعوت به ئے ورکولو او د دے سره سره به ئے د غريبانو، تنګدستو او حاجتمندو د مدد کولو هم ډيره جذبه لرله، هغوئي به کله هُم د سوالګر سوال نه رد کولو، کله به ئې هُم حاجتمند تش لاس نه ليږلو، بلکه دا به ئې فرمائيل چه ما د ټولو اعمالو تفتيش کړے دے، په هغے کښې مے په خلقو طعام خوړلو نه بل افضل عمل نه دے ليدلے. کاش! چه زما په لاس کښې وے چه په ورږو خلقو مې طعام خوړلے. (قلائدالجواہر، ص۳۷)

شيخ عبدُالله جبائي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چه يو ځل غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ما ته اِرشاد اوفرمائيلو چه زما په نزد په اوږو خلقو طعام خوړل او خلقو سره د حُسنِ اخلاق سلوك کول کامل او زيات فضيلت لرونکي اعمال دي. بيا ئے اِرشاد اوفرمائيلو: زما په لاس کښې پيسے نه حصاريږي، که سحر زما په لاس زر (1000) ديناره راشي نو ماښامه پورے به په هغے کښې يوه پيسه هُم پاتے نه شي، ځکه چه په غريبانو او محتاجو باندے ئے تقسيم کړم او اوږو خلقو باندے طعام اوخورم. (قلائدالجواہر، ص۸ ملخصاً)

راځئ چه د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سخاوت او د غريبانو د مدد مُتَعَلِّق يوه ښکلي واقعه واورو: چنانچه

## دا ټول د هغه شپے برکت دے

د حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُاللہِعَلَيْه د صاحبزاده [يعني ځوئ] حضرت علامه سيِّد عبدالرَّزاق قادري رَحْمَةُاللہِعَلَيْه بيان دے چه کله زما والد محترم مشهور شو نو [د هغے نه پس] هغوئي صرف يو ځل حج اوکړو، هغه حج له چه تللو نو په لاره کښې به ما د هغوئي رَحْمَةُاللہِعَلَيْه د سورلئ رسئ نيولي وه، چه کله مونږه د بغداد په جنوب کښې واقع يو ښار ته اورسيدلو نو هغوئي اوفرمائيل: دلته د ټولو نه غريب کور اوګورئ، هلته مونږه يو شړ ځائے کښې د ورئ يوه خيمه اوليدله، په هغے کښې يو بوډا سړے يوه بوډئ او يوه جينئ وه. هغوئي رَحْمَةُاللہِعَلَيْه د هغه بوډا نه اجازت واغستلو او سره د ټولو ملګرو په هغه شړ ځائے کښې [د سوَرلئ نه] کوز شولو، د هغه ښار مشائخ او مالدار خلق د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو او درخواست ئې اوکړو چه تاسو زمونږه غريب خانو ته يا بل يو ښه کور ته تشريف راوړئ، خو هغوئي منظوره نه کړه. د ښار والي [يعني حاكِم] د هغوئي د پاره ډيرے غواګانے، چيلئ، خوراك، سره زر، سپين زر او سامان را اوليږلو او د سفر د پاره ئې سورلئ هُم را اوليږلے او خلق د هر طرف نه د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو، هغوئي خپلو ټولو ملګرو ته اووئيل چه د دے ټول سامان نه ما خپله حصّه دے کور والؤ ته اوبخښله. ملګرو ئے چه دا واوريدل نو هغوئي هُم اووئيل چه مونږه هُم خپله خپله حصّه ور اوبخښله، دغه شان هغه ټول مال هغه بوډا، بوډئ او جينئ ته ورکړے شو، شپه ئے هلته اوکړه او سحر د هغه ځائے نه روان شو، (د هغوئي رَحْمَةُاللہِعَلَيْه صاحبزاده فرمائي چه) ډير کلونه پس زه په هغه ښار تيريدم، څه ګورم چه هغه بوډا د هغه ځائے

په اوسيدونڪو کښې د ټولو نه زيات مالدار دے، هغه ما ته اووئيل چه دا ټول د هغه شپے برکت دے، هغه غواګانو او بيزو بچي راوړل او هغه غټ شو، دا د هغوئي نه پيدا دي. (بهجة الاسرار، ذکر شي من شرائف اخلاقه، ص۱۹۸)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مجلس ډاکټر

**اے عاشقانِ غوثِ اعظم**! د اِيثار و سخاوت جذبه حاصلولو د پاره، مسلمانانو سره د ښه سلوك کولو، د غريبانو، تنګدستو او محتاجانو د حاجتونو پورا کولو جذبه حاصلولو او د غوثِ پاك رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په سِيرت باندے د عمل کولو جذبه زياتولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مدنی تحريك دعوتِ اسلامی سره تړون اوکړئ. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامی په ټوله دُنيا کښې دا وخت د 107 نه زياتو شعبه جاتو په ذريعه د دين اسلام پيغام عام کولو کښې مصروفِ عمل دے، په دے شعبو کښې يوه شعبه "**مجلس هوميو پيتهك ډاکټر**" هم ده. په موجوده دور کښې د علاج کولو مختلف طريقے رائج دي، د ايلوپيتهك ميډيسن په ذريعه علاج کولو والؤ ته **ايلوپيتهك ډاکټرز**، او د هوميوپيتهك دوايانو په ذريعه علاج کولو والؤ ته **هوميوپيتهك ډاکټرز** او د يوناني دوايانو په ذريعه علاج کولو والؤ ته **حکيم** وائي د عاشقانِ رسول مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول کښې د ډاکټرانو د هرے طبقے د پاره جدا جدا مجالس قائم شوي دي. د دے ټولو مجالسو مقصد د مختلفو شُعبه جاتو سره وابسته خلقو په زړونو کښې د فرض علومو اَهَمِّيَّت بيدارول، هغوئي ته د دعوتِ اسلامي پيغام رسَوَل او هغوئي د دعوتِ

اسلامي مدني ماحول سره وابسته کول دي او د دے مدني مقصد چه "**ما ته د خپل ځان او د ټولے دُنيا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي.**" مطابق د ژوند تيرولو ترغيب ورکول دي. **الله** پاك دِ دعوتِ اسلامي ټولو مجالسو او شعبه جاتو ته ډيره ترقي ورکړي. **اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

الله کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں اے دعوتِ اسلامی تیری دھوم مچی ہو

الله دِ کرم اوکړي په تا داسے په جهان کښې اے دعوتِ اسلامي خُدائے دِ عام کړه په هر ځائے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د بيعت کيدلو يو څو اَهَم مدني ګلونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د بَيعَت کيدلو [يعني مُرِيد جوړيدلو] يو څو اَهَم مَدَني ګُلونه د بيانولو سعادت حاصلووم.: ☆ په دُنيا کښې يو صالح کس خپل امام جوړول پکار دي. په شريعت کښې د تقليد کولو د پاره او طريقت کښې د بيعت کيدلو د پاره چه حشر مو د ښو خلقو سره اوشي. (آداب مرشد کامل، ص۱۳) ☆ د ايمان د حفاظت يوه ذريعه د يو **پِيرِ کامِل** مُريد جوړيدل هم دي. (آداب مرشد کامل، ص۱۲) ☆ پير د اُمورِ آخرت د پاره جوړول وي چه د هغوئي د رهنمائي او باطني تَوجُّه په برکت مريد د **الله** او رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ناراضئ والا کارونو نه بچ اوسي او د **الله** تعالیٰ د رضا حاصلولو والؤ کارونو مطابق خپلے شپے او ورځے تيروي. (آداب مرشد کامل، ص۱۳) ☆ د حُضُورِ غوثِ پاك رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په مريد جوړيدلو کښې د ايمان د حفاظت، د مرګ نه

مخکښې د توبه کولو توفيق، د جَهنَّم نه د آزادئ او جَنَّت ته د داخليدو په شان عظيمے فائدے موجودي دي. (فکرِ مدینہ، ص۱۶۱) ☆ د قاصد يا خط په ذريعه مريد جوړيدے شي. (فتاویٰ رضویہ، ۲۶/۵۸۵)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د **مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشريعت" حصّه ۱٦ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "**سُنَّتیں اور آداب**" هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!          صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# د راروانے هفته وارې اجتماع د بيان جهلكياني

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بيان موضوع به وي "**ماشومان اوليائے کرام**". لِهٰذا د **الله** تعالٰی د رضا د پاره راروان زيارت له هُم اجتماع کښے د حاضرئ نِيَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِيَّت هُم اوکړئ.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!          صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ ﹰالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ

الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِه وَصَحْبِه وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنئ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښے د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښے د داخلیدو وخت کښے هُم، تر دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښے د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندے کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِه وَسَلِّمْ

حضرتِ سیّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دے چه تاجدارِمدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښے او که ناست وو نو اودریدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم حیران شو

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

چه دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه كله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيكئ ليكي.[3] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريكه اووائيو.

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

## ﴿2﴾ داسے ده لکه شبِ قدر ئے چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د خُدائے حَليم وكريم نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، الله پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِيم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث: ۴۴۱۵